
رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه

# داعلیٰ حضرت

# وصیتونه

د اجتماع یوم رضا بیان



**25-Safar ul Muzaffar-1447H**

د اِجتماع یومِ رضا بیان

پۀ 19 اگست، کال 2025ء (بمطابق: د 24 او 25 صَفَر شريف ( د نهې او د شروع) ترمينځه شپه، کال 1447ھ)

# د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وصيتونه

پہ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- راپريوتونکے يې بچ کړو (واقعه) ----
- د عاشقانِ رسول د پيژندلو اسانه طريقه ----
- د ټولو نه ښه خبره
- بیان کول سُنَّتِ انبياء دي

پیشکش

اَلۡمَدِيۡنَةُ الۡعِلۡمِيَة

Islamic Research Center

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡم ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ الله

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې په ما باندې یو ځل دُرُودِ پاک ولولي، **الله** پاک به په هغۀ باندې 10 رحمتونه نازل کړي، څوک چې په ما باندې 10 کرته دُرُودِ پاک ولولي، **الله** پاک به په هغۀ باندې 100 رحمتونه ناز کړي او څوک چې په ما باندې 100 کرته دُرُودِ پاک ولولي، **الله** پاک به د هغه د دواړو سترګو په مینځ کښې ولیکي چې دا بنده د منافقت نه او د دوزخ د وور نه ازاد دے۔ (1)

نامِ حضرت پہ لاکھ بار دُرود — بے عَدد اور بے شُمار دُرود

ہم کو پڑھنا خُدا نصیب کرے — دَم بدَم اور بار بار دُرود

مومنو! آپ پر پڑھے جاؤ — باادَب اور باوَقار دُرُود

جو مُحِبّ نبی ہے اے کافؔی! — چاہیے اُس کو بار بار دُرُود (2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د دُرُودِ پاک عظیمُ الشان برکت دے چې د دې په برکت د زړۀ نه د منافقت اثرات ختمیږي او ایمان پخیږي۔ علامه اِبنِ حجر هَیتَمِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ لیکلي دي: دُرُودِ پاک یوه نیکي نۀ ده، بلکې دا د ډیرو نیکو مجموعه ده ❁ د دُرُودِ پاک لوستلو سره

1… مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، فی الصلوۃ علی النبی...الخ، جلد:10، صفحه:184، حدیث:17298۔

2… کافی کی نعت، صفحه:38۔

اِیمان تازه کیږي، دا یوه نیکي ❁ د دُرُودِ پاک په برکت سره په رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې یقین زیاتیږي، دا دویمه نیکي ❁ د دُرُودِ پاک په لوستلو کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعظیم دے، دا دریمه نیکي ❁ د دُرُودِ پاک د لوستلو سره په اخرت باندې ایمان پخیږي، دا خلورمه نیکي ❁ په دُرُودِ پاک کښې د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِحساناتو ذِکر دے، دا پینځمه نیکي ❁ په دُرُودِ پاک کښې د نیکانو د سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکر دے او د نیکانو په ذِکر باندې رحمت نازلیږي، دا شپږمه نیکي ده۔ (1)

دغه شان نورې هم ډیرې نیکۍ دي کومې چې د یو دُرُودِ پاک په ضِمن کښې راځي۔ ځکه مونږ له پکار دي چې په زړهٔ کښې د ایمان زیاتولو، د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عشق پیدا کولو او د الله پاک د رحمتونو د حقدار جوړیدو د پاره په کثرت سره دُرُودِ پاک لولو۔

نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرود پڑھو! | مُحِبّو! پاؤ گے جنّت میں گھر دُرود پڑھو!
جو اپنے کاموں کا اَنجام نیک چاہتے ہو | ہر ایک کام میں تم پیش تر دُرود پڑھو!
ہزار دَرد کو یہ ایک دَوا کِفَایت ہے | جو پیش آئے ذرا بھی خَطَر دُرود پڑھو! (2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے۔ (3)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره

---

1...الدر المنضود، مقدمه، الفائدة الرابعه...الخ، فوائد فی الامر بالصلاة علیه، صفحه:22۔
2...نورِ ایمان، صفحه:56تا57 ملتقطاً۔
3...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

به تهول بیان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښېنم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## راپریوتونکے یې بچ کړو

سَیِّد رضا علي صاحب، **د اعلیٰ حضرت شاه اِمام احمد رضا خان** رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ **پهٔ مُریدانو کښې دے، فرمائي: د اعلیٰ حضرت** رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د مُرید جوړیدو نه مخکښې خبره ده، ما یو کامِل پیر لټولو، غوښتل مې چې څوک کامِل پیر راته میلاؤ شي نو مُرید به یې جوړ شم، ما ته چا ووئیل چې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د دې وخت کامِل وَلي دے، تاسو د هغوئي مُرید جوړ شئ! ما ووئیل چې تر څو پورې څهٔ اونهٔ وینم تر هغه وخته پورې یې مُرید نهٔ شم جوړیدے۔

دا د هغوئي واقعې ده چې ډیر اهم احتیاط دے۔ مُرید جوړیدل ډیره اهمه خبره ده، د مُرید جوړیدو مطلب دے ځان خپل شیخ ته سپارل۔ ظاهره ده چې دومره لویه فیصله خو بغیر د سوچ نه نهٔ شي کیدے۔ نن سبا د معلوماتو کمے دے، حالات داسې دي چې بس د چا طرف ته زړهٔ مائل شي نو بس هم د هغهٔ پهٔ لاس بیعت وکړي۔ داسې نهٔ دي کول پکار، آؤ! د پیر صاحب نه کرامات غوښتل بے ادبي ده۔ البته! د شریعت خبره خو به منلے کیږي، شریعت د کامِل پیر 4 شرطونه ښودلي دي: **(1)**: د صحیح عقیدې والا سُني وي **(2)**: دومره عِلم لري چې د خپل ضرورت مسئلې د کتابونو نه راویستے شي **(3)**: فاسِقِ مُعلِن (یعني پهٔ ښکاره ګناه کوونکے) نهٔ وي **(4)**:د هغه د بیعت سلسله نبي پاک صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته رسیدلې وي۔ چرته چې پهٔ دې شرطونو کښې یو شرط کم ووي، بیعت جائز نهٔ دے۔ [1]

1...فتاوٰی رضویه، جلد:26، صفحه:568۔

خير! سَيِّد رضا علي صاحب فرمائي چې تر ډيرې مودې پورې ما کامِل پير لټولو- اخر يو ځل داسې وشو چې زۀ د شپې اوده شوم نو بخت مې رابيدار شو، ما خوب وليدو چې زۀ پۀ يوه ډاکه کښې يم او راپريوتو والا يم- دغه وخت کښې **اعلیٰ حضرت** رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه **تشريف راوړو، هغوئي زۀ بچ کړم او وه يې درولم-** چې سحر شو نو ما دا خوب خپل دوست نياز احمد صاحب ته بيان کړو، هغوئي وفرمائيل: تاسو د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه مُريد جوړ شئ! اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه واقعي ده چې راپريوتونکي بچ کوي- بس چې دا خبره مې واوريدله نو د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پۀ لاس مبارک باندې مُريد شوم- (1)

وَ فِیۡۤ اَمۡوَالِہِمۡ حَقٌّ ہر اِک سائل کا حق ٹھہرا
نہیں پھرتا کوئی محروم ایسے باسخا تم ہو
بھکاری تیرے در کا بھیک کی جھولی ہے پھیلائے
بھکاری کی بھرو جھولی گدا کا آسرا تم ہو

وضاحت: د الله پاک د فرمان وَالَّذِيۡنَ فِيۡۤ اَمۡوَالِهِمۡ حَقٌّ مَّعۡلُوۡمٌ (او هغه د کومو پۀ مال کښې چې يو معلوم حق دے (پارہ: 29، سورۂ معارج: 24)) مطابق د مالدارو پۀ مال کښې د هر غريب حق وي، اے زما پير او مُرشده! اے اِمام احمد رضا خانه! تاسو خو داسې سخي يئ چې ستاسو نه غوښتونکے ستاسو د دربار نه محرومه نۀ ځي، ستاسو پۀ دَر کښې سوالي ځولۍ غوړولې ده او ولاړ دے، د دۀ جولۍ ډکه کړئ! چې د دۀ اَسره هم تاسو يئ-

خائفِ کبریا ہیں رضا ہیں رضا | عاشقِ مصطفیٰ ہیں رضا ہیں رضا
صوفیِ باصفا ہیں رضا ہیں رضا | صاحبِ اِتّقا ہیں رضا ہیں رضا

1 ...فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه: 439 بتصرف-

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عاشقِ اولیا | ہیں رضا ہیں رضا | زینتِ اَتْقِیا | ہیں رضا ہیں رضا(1) |

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ مختصر تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اے د رضا عاشقانو! اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د عاشقانو اِمام دے ❀ د سُنیانو اِمام دے ❀ د عالمانو اِمام ❀ د عابدانو اِمام ❀ د زاهدانو اِمام ❀ د تقویٰ والؤ اِمام ❀ د فُقَها، مُحَدِّثينو، مُفَسِّرينو اِمام دے ❀ هغوئي مُجتَهِد هم دے ❀ مُفَسِّر هم دے ❀ مُحَدِّث هم دے ❀ ډير لوئي عالِم هم دے ❀ ډير ذهين مفتي هم دے ❀ د قرآنِ حافظ هم دے ❀ او د ټولو نه زيات د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتونے عاشق هم دے۔

ایک سچا عاشقِ نورِ مجسم بولیے | ان کو ان کے عہد کا سالارِ اعظم بولیے
جن سے ہوں آباد علم و آگہی کی بستیاں | ہیں جنم لیتی کئی صدیوں میں ایسی ہستیاں

هغوئي په 10 شوال کال 1272 هجری مطابق 14 جون کال 1856ء د هندوستان په بريلي ښار کښې پيدا شولو ❀ هغوئي د 4 کالو په عمر کښې د قرآنِ کريم ناظره ختمه کړله ❀ صرف د 13 کالو 10 مياشتو 4 ورځو عمر کښې يې دِيني عِلم مکمل کړو او وړومبی فتویٰ يې وليکله ❀ اندازتاً د 70 نه په زياتو علومو کښې يې څهکم يا زيات 1000 کتابونه وليکل ❀ د قرآنِ کريم ترجمه کَنزُ الاِيمان ❀ فتاویٰ رضويه ❀ حدايقِ بخشش، د هغوئي عِلمي او ادبي کارنامې دي ❀ اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ دوه کرته د حج سعادت حاصل کړو ❀ په دويم ځل چې کله د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم روضې مبارکې ته حاضر شو نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته د سر په سترګو خپل ديدن

---

1...وسائلِ فردوس، صفحه:62 ملتقطاً۔

عطا کړلو ❁ تقویٰ او پرهيزګاري يـې دومره وه چې يواځې د فرائضو او واجباتو پۀ سختئ سره پابند نۀ وو بلکې سُنَّت او نفلونه او مُستَحَبَّات به يـې هم نۀ پريښودل ❁ کم خوراک به يـې کولو، کم به اودۀ کيدلو ❁ اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه **پۀ 25 صفر الـمظفر** کال 1340 هجری مطابق کال 1921ء د جُمعې په ورځ د دې فاني دُنيا نه سفر وکړو ❁ د هغوئې مزار پۀ بريلي شريف کښې دے- **پۀ 25 صفر الـمظفر** پۀ ټوله دُنيا کښې د هغوئې عرس کولے شي- (1)

تُو نے باطل کو مٹایا اے اِمام احمدرضا | دین کا ڈنکا بجایا اے اِمام احمدرضا
اہلِ سنّت کا چمن سر سبز تھا شاداب تھا | تازگی تُو اور لایا اے اِمام احمد رضا
تُونے باطل کو مٹا کر دین کو بخشی جِلا | سنّتوں کو پھر جلایا اے اِمام احمدرضا
حشر تک جاری رہے گا فیض مرشد آپ کا | فیض کا دریا بہایا اے اِمام احمدرضا (2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## هدايت ته رسوونکي خلق

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د الله پاک پۀ کروړونو فضل دے چې زمونږه د اعلیٰ حضرت، شاه امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پيژندګلو نصيب شوه، د هغوئې سره محبت کوونکے زړۀ او د قرآن او د سُنَّت پۀ رڼاګانو کښې پۀ وئيلے شوې هره يوه خبره باندې مو د يقين سوچ نصيب شو- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د راپريوتونکو سنبالونکے، بے لارې شوي پۀ صحيح لاره باندې د راوستلو والا عظيم شخصيت دے-

اے رضا مرتبہ کتنا ہوا بالا تیرا | ہند تو ہند عرب میں ہوا شُہرہ تیرا

---

1 ...فيضانِ اِمام اہلسنت، خصوصی شمارہ، ص 22 تا 24 ملخصاً بتصرف۔
2 ...وسائلِ بخشش، صفحہ: 452۔

| | |
|---|---|
| نام اعلیٰ ہے ترا حضرتِ اعلیٰ تیرا | کام اَولیٰ ہے تِرا اے شہِ والا تیرا |
| تیرے اچھوں نے کیا ہے بڑا اَچھا تیرا | پھر بَھلا کیا کوئی بدخواہ کرے گا تیرا |
| کارنامہ تیری تَجدِید کا اللہ اللہ | مَسلکِ اہلِ سُنَن بن گیا رستہ تیرا |

پهٔ ذِهن کښې سوال راتلے شي چې دا دي څنګه خبره وکړه ،چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بے لارې شوو ته نيغه لاره ښودونکے،د راپريوتونکو سنبالونکے څنګه شو---؟ راځئ چې د قرآنِ کريم آيت واورو! **الله** پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مِمَّنْ خَلَقْنَاۤ اُمَّةٌ یَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ (پاره:9، سورهٔ اعراف:181) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او زمونږ د مخلوق نه يوه داسې ډله ده کومه چې د حق هدايت ورکوي- |

سُبْحٰنَ الله! دا ډير ايمان تازه کوونکے آيت مبارک دے- لږ پهٔ خبره باندې ځان پوهه کړئ- د سُورهٔ اَعراف دا ځائے د کوم ځائے نه چې ما دا آيت مبارک تلاوت کړو، پهٔ دې ځائے کښې **الله** پاک د دوه قِسمه خلقو ذِکر کړے دے، د وړومبي قِسم والا پهٔ باره کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيْرًا (پاره:9، سورهٔ اعراف:179) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بے شکه مونږه د دوزخ د پاره ډير پيدا کړي دي- |

**(1)**: يعني يوه ډله خو هُغه ده کومه چې هم د دوزخ لائق ده، هم دوزخ ته د تللو د پاره ده، يعني هُم د هغوئي کارونه او حرکتونه د دوزخيانو والا دي،[1] د دې نه پس د دويم قِسم والا پهٔ باره کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مِمَّنْ خَلَقْنَاۤ اُمَّةٌ (پاره:9، سورهٔ اعراف:181) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او زمونږ د مخلوق نه يوه داسې ډله |

1 ... تفسير ماتريدی، پاره:9، سورهٔ اعراف، زيرِ آيت:179، جلد:5، صفحه:95 مفهوماً۔

دہ۔

**(2)**: یعنې دویمه ډله هغه ده کومه چې د جنَّت د پاره جوړه کړے شوې ده، هغوئي ته د جنَّتي اعمالو توفيق عطا کړے شوے دے، دا جنتيان دي، هم د جنَّت د پاره جوړ کړے شوي دي۔[1] دا کوم خلق دي؟ څۀ کوي؟ د دوئي اعمال څنګه دي؟ فرمائي:

**يَّهۡدُوۡنَ بِالۡحَقِّ** (پارہ:9، سورۂ اعراف:181) | **ترجمۂ کنزُالعِرفان:** کومه چې د حق هدايت ورکوي۔

یعنې دا هغه خلق دي کوم چې خلقو ته د حق لارې هدايت کوي، ځوک چې د دوئي لمن اونيسي، هغوئي د ګمراهو نه بچ کوي او د حق پۀ لار باندې يـې روانوي، پخپله هم پۀ رښتينو عقيدو، د اِسلام پۀ رښتينو تعليماتو باندې ثابت قدم اوسيږي او خپل منونکي، خپل خوښوونکي هم پۀ رښتينو عقيدو او رښتينو تعليماتو باندې ثابت قدم ساتي۔[2]

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** د دې آيت نه معلومه شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دې ښکلي اُمت کښې داسې خلق راغلي او بيا د پاره به هم راځي کومو چې به خلقو ته د حق لارې هدايت کولو، کوي او بيا به يـې هم کوي۔[3] د **الله** پاک پۀ فضل سره اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه هم پۀ دې پاکه ډله کښې شامل يو د اوچتې مرتبې هستي ده۔

ہے رضائے مصطفٰے احمد رضا | ہے عطائے مرتضیٰ احمد رضا
رہبر اور رہنما احمد رضا | حق نما حق آشنا احمد رضا
نائب مختارِ کل، غوث الوریٰ | نائب غوث الوریٰ احمد رضا

---

1… تفسیر ماتریدی، پارہ:9، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:179، جلد:5، صفحہ:95 مفہوماً۔

2… تفسیر نسفی، پارہ:9، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:181، جلد:1، صفحہ:620 مفصلاً۔

3… تفسیر رازی، پارہ:9، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:181، جلد:5، صفحہ:417۔

## د عاشقانِ رسول د پیژندلو اسانه طریقه

حضرت علامه قادِر بخش سَهسَرامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیر لوئي عالِمِ دِین تیر شوے دے، یو ځل د هغوئي نه خلقو پوښتنه وکړه چې مونږ ته د عاشقِ رسول سُني او د بد مذهبه د پیژندلو ساده شان طریقه وښایئ! قادر بخش سَهسَرامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائیل: د کوم بنده په باره کښې چې د دې نه ځان خبرول غواړي چې بد مذهبه دے که عاشقِ رسول دے نو د هغه په مخکښې د **مولانا احمد رضا خان صاحب** ذِکر شروع کړئ! **که په مخ یې خندا راشي یقین وکړئ چې دا عاشقِ رسول سُني دے او که تندے تریو کړي نو پوهه شئ چې بد مذهبه دے۔** (1)

| | |
|---|---|
| جلوہ ہے، نُور ہے کہ سراپا رضا کا ہے | تصویرِ سُنّیت ہے کہ چہرہ رضا کا ہے |
| اِس دورِ پُرفتن میں نظَر خوش عقیدگی | سرکار کا کرم ہے وسیلہ رضا کا ہے |

**وضاحت:** په اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې د نُورِ اِلٰهی ډیر ډیر فیضان ښکاري او د هغوئي مخ مبارک د سُنیت پیژندګلو ده، د **الله** پاک په کرم سره که نن مونږ ته ښه عقیده حاصله ده نو دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په کرم سره او د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسیله باندې حاصله ده۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په دوئي پسې ځه! ټول به په تا پسې در روان وي

یو ځل سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مَهَائم شریف (هندوستان) د یو مجذوب د ملاقات د پاره تشریف یوړلو، حضرت عبدُ السَّلام جَبَل پور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د هغوئي سره وو۔ مفتي بُرهانُ الحق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې مونږ د هغوئي خوا ته ورسیدو نو مجذوب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په سر باندې عمامه شریف کېښودې وه او په تخت باندې ناست وو او **دلائلِ**

1 ...حیاتِ اعلیٰ حضرت، جلد:3، صفحه:274 ملخصاً۔

الـخيرات شريف يـې لوستلو۔

هغوئي د اعلیٰ حضرت ښه ډيره ميلمستيا وکړه، چې کله واپس راروان شو نو ما د هُغه مجذوب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ښېې مبارکې ونيولې او عرض مې وکړو: زما د پاره د خير دُعا وکړئ! هُغه مجذوب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما په ملا باندې لاس کيښودو او د سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه طرف ته يـې اِشاره وکړه او اوئې فرمائيل: په دوئي پسې ځه! ټول به په تا پسې در روان وي۔ (1)

| | |
|---|---|
| میں گرفتارِ بلائے دوجہاں | ہر بلا سے کر رِہا! اَحمد رضا! |
| تُم ہی مُرشِد، تم دوائے رَنج و غَم | مجھ پہ بھی چَشْمِ عطا! اَحمد رضا! |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رضا فيض يـې دُنيا ته ښکاره کړو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې د **الله** پاک دا ډير لوئي کرم دے، ډير لوئي اِحسان دے چې په دې دور کښې د هغوئي نوم د حق پيژندګلو ده۔

تاسو ته يوه ښکلې خبره عرض کړم: اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حق پيژندګلو ده او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشق، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپل ځان، خپل ټول کور والا، ټول مريدان، ټول محبت کوونکې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقان جوړ کړي دي۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په لکونو اِسلامي ورونړه او اِسلامي خوئيندې داسې دي، د کومو چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پيژندګلو او د هغوئي محبت او عقيدت د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په وجه نصيب شوے دے۔

| | |
|---|---|
| فکرِ رضا کو کر دیا عالَم پہ آشکار | یہ تیرا اُونچا کام ہے اِلیاس قادری (2) |

---

1...فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:340 ملخصاً۔

2...مناقبِ عطار، صفحه:11۔

## د امیرِ اهلِسُنَّت د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره محبت

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره ډیر محبت دے، بے حده محبت دے، که جلوت وي او که خَلوَت (یعنې که یواځې وي او که د خلقو په مینځ کښې) هغوئي د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ذِکرِ خیر کوي، **هغوئي فرمائي:** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوم چې وَلِيُّ الله دے، رښتونے عاشقِ رسول او زمونږه منلے شوے بزرګ دے، د هغوئي عقیدت په زړۀ کښې سمبال ساتل بے حده ضروري دي، **د الله** پاک **د خوږ حبیب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** اَلْبَرَكَةُ مَعَ اَكَابِرِكُمْ یعنې برکت ستاسو د بزرګانو سره دے۔ [(1)] ❁ **هغوئي فرمائي:** د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مسلک نه د یو ویښتهٔ برابر د لرې کیدو نه مخکښې دې الله کریم ما ته د ایمان او د عافیت سره مرګ راعطا کړي۔ [(2)]

| | |
|---|---|
| خادمِ نبی کے خُوش‌تَرْ الیاس قادری ہیں | علم و عمل کا مَحْوَر الیاس قادری ہیں |
| احمد رضا کا عاشق اُن کو کہے زمانہ | علم و عمل کے پیکر الیاس قادری ہیں |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نمونځ د پاره راپاخولو

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه واقعي ده چې د ډیرې اوچتې مرتبې والا دے، دا رښتیا خبره ده چې څوک د هغوئي د کرم لمن پهٔمضبوطه طریقه اونیسي، د هغهٔ په دواړو جهانونو کښې خیرونه نصیب کیږي۔ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل مریدان، محبت کوونکي او منونکي په کومو کومو طریقو په نیک کارونو کښې اخته کوي، واورئ! سید قناعت علي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

1...علم و حکمت کے 125 مدنی پھول (تذکرہ امیر اہلسنت، قسط:5)، صفحه:79، 80۔

2...فیضانِ امامِ اہلسنت(خصوصی شمارہ)، صفحه:10۔

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُريد دے- **فرمائي**: د 14 ذُو الـحِج، کال 1333 هجری خبره ده، سحر وختي، د سحر د نـمونځ وخت وو او زۀ اودۀ ووم چې ما خوب وليدو، څۀ ګورم چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړو، زما د ښي لاس غټه ګوته او ورسره خوا کښې ګوته يـې راښکله او اوئې فرمائيل: پاڅه---!! نـمونځ وکړه! 5 بجې دي-

فرمائي چې د دې سره زما سترګې وغړيدلې، چې ګړی ته مې وکتل نو واقعي چې 5 بجې وې، زۀ پاڅيدم او د سحر نـمونځ مې ادا کړو- (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه- تاسو وګورئ چې څوک د خپلو مُريدانو د نـمونځونو دومره حفاظت کوي، چې مُريد يـې اودۀ وي او راپاڅوي يـې او نـمونځ يـې د قضا کيدو نه بچ کوي، هغه به د خپلو مريدانو د عقيدو د معاملو پۀ باره کښې تر کومه حده پورې خيال ساتي---؟؟

ہیں شریعت اور طریقت کے امام | پیکرِ عشق و وفا احمد رضا
دین و ایمان کی حفاظت تم نے کی | ہو تِرا حافظ خُدا احمد رضا

## د نـمونځ د پاره راپاڅول کوئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دلته زمونږ د ژوندکړې د پاره هم يو سبق دے، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ظاهره ده چې وَلِيُّ الله دے، هغوئي خو صاحب د کرامت دے، دا شان لرې چې پۀ خوب کښې راځي او د نـمونځ د پاره راپاڅول کوي-

خو مونږ چې لږ غور وکړو، څه مونږه خو پۀ خوب کښې د نـمونځ د پاره راپاڅول نۀ شو کولے آيا مونږ د بيدارۍ پۀ حالت کښې خلق د نـمونځ د پاره راپاڅوو---؟ که مونږ نور

---

1 ... فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه: 441۔

خلق د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅوو نو پهٔ دې باندې د **اللّٰه** پاک شُکر ادا کړئ! که عادت نهٔ وي نو د راپاڅولو عادت جوړ کړئ!

د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅول د **اللّٰه** پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر ښکلې سُنَّت هُم دې- حضرت اَبُو بَڪرَه (يعني نَقِيع بن حارِث) رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې زهٔ د مدينے د سرکار، د زړونو د قرار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د سحر د نـمونځ د پاره روان شوم نو هغوئي به چې د کوم اودهٔ کَس پهٔ خوا باندې هم تيريدلو، هغهٔ ته به يې د نـمونځ د پاره اواز کولو- (1)

❁ د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم دغه انداز وو (2) او ❁ د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به هم پهٔ دې ښکلو ښکلو سُنَّتو باندې عمل کولو- (3)

❁ **تاسو هم دا سُنَّت اختيار کړئ!** د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډېر برکتونه به درنصيب شي ❁ چې نور راپاڅوئ نو پخپله به درته هم د جَمعې سره د سحر د نـمونځ کولو سعادت درنصيب کيږي ❁ سحر سحر به مو د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب نصيب کيږي ❁ ستاسو پهٔ راپاڅولو چې څومره خلق نـمونځ کوي، د هغوئي د ټولو د نـمونځونو ثواب به هغوئي ته هم ميلاويږي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ستاسو پهٔ اعمال نامه کښې به هم ليکلے کيږي- ❁ سحر وختي به درته د پيدل تللو موقع ميلاويږي نو صحت به مو هم ښهٔ کيږي ❁ يوه اهمه فائده دا هم ده چې جومات ته به خلق ډېر راځي- **اللّٰه** پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

---

[1]…ابو داؤد، كتاب الصلاة، باب الاضطجاع بعدها، صفحه:208، حديث:1264-

2…مشكاة المصابيح، جلد:1، صفحه:244، حديث:1240 ماخوذاً-

3…تاريخ الخلفاء، صفحه:112 ماخوذاً-

# د ټولو پوښتنو يـې تسلي بخش جوابونه ورکړل!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته لوئي شان ورکړے وو، هغوئي بے لارې شوو ته د حق لارې هدايت ورکولو والا دے، د دې يوه ښکلې او خوندوره واقعه واورئ!

يو ځل د ماسپښين د نـمونځ نه مخکښې وخت وو، مولانا نعيمُ الدِّين مُراد آبادي او مولانا رحم اِلٰهی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِما د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر وو، په دې کښې هلته يو غير مسلمه راغلو- اوئې وئيل: زما څۀ پوښتنې دي، که تسلي بخش جوابونه راکړے شي نو زۀ به د ښځې او بچو سره کلمه ووايم او مسلمان به شم-

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: اوس خو د نـمونځ وخت دے، لږ ساعت ايسار شه! د نـمونځ نه پس به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ستا د هرې پوښتنې جواب درکولے شي- هغه غير مسلمه ووئيل: زما ورومبۍ پوښتنه هم دغه ده چې ستاسو په دِين کښې د عبادت 5 وختونه ولې مقرر دي؟ د الله پاک عبادت خو چې څومره هم ډير وکړے شي نو ښۀ دے، څکه دې د پاره د وخت قيد نۀ وو پکار؟ په دې اوريدو مولانا نعيم الدِّين مراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فوراً وفرمائيل: دا سوال خو ستاسو په مذهب هم کيدے شي څکه چې تاسو اوس په کوم مذهب روان يئ، په هغې کښې هم د پوجا کولو وخت مقرر دے- مولانا رحم اِلٰهی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ووئيل: ستاسو د مذهب کتاب زما سره په کور کښې پروت دے، زۀ يـې راغواړم-

بيا يو کَس د کتاب راوړو د پاره لاړو، دا خبره وټاکلے شوه چې تر څو پورې کتاب راځي نو تر هغې پورې به نـمونځ ادا کړے شي، د هغې نه پس به د نورو پوښتنو جوابونه هم ورکړے کيږي- نو هغه غير مسلمه هم هلته ايسار شو، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او نورو بزرګانو د جَمعې سره د ماسپښين نـمونځ ادا کړو- د نـمونځ نه پس د هغه غير مسلمه

د مذهب کتاب راوړے شوے وو، په هغې کښې راویستے شو چې ستاسو په مذهب کښې د عبادت (یعنې پوجا دوه وختونه مقرر دي، سحر او ماښام)- په دې کتو هٔغه غیر مسلمه مطمئین شو-

بیا هغه دویمه پوښتنه وکړه: اوئې وئیل: که قرآن د الله کلام دے نو لږ لږ ولې نازل شو، **الله** پاک خو په یو ځل ټول قرآن نازلولے هم شو-

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائیل: کوم څیز چې عین د ضرورت په وخت میلاوېږي، په زړهٔ کښې د هغې اهمیت زیاتیږي (مثلاً اوبهٔ عام طور مونږ ته هر وخت حاضرې وي، فرض کړئ! سخته ګرمي ده، مونږ په صحرا کښې روان یو او سخت تږي شوي یو، بیا که نیم ګلاس اوبهٔ هم میلاؤ شي نو د هغې به زمونږ په زړهٔ کښې ډیر اهمیت وي، مونږ به د هغې په اِستعمالولو کښې ډیر احتیاط کوو، هغه به د پریوتو او ضائع کیدو نه بچ کوو، هم دغه خبره ده چې کوم څیز د ضرورت په وخت میلاوېږي، د هغې اهمیت زیاتیږي، ځکه قرآنِ کریم موقع په موقع نازل کړے شو، چې کله به هم صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان ته د څهٔ نوې راهنمایۍ ضرورت وو، نو بیا به قرآن نازل شو)- اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور وفرمائیل: انسان د ماشوم په شکل کښې پیدا کیږي، بیا ځلمے کیږي، بیا بوډا کیږي، **الله** پاک خو د هغهٔ په بوډا پیدا کولو هم قادِر دے، بیا یې بوډا ولې پیدا نهٔ کړو؟ اِنسان کرونده کوي، وړومبے بوټے راوخیژي، بیا څهٔ موده پس وږے وکړي، بیا دانې وکړي، **الله** پاک خو قادِر دے چې یو دم دانه پیدا کړي، بیا یې داسې ولې اونهٔ کړل---؟

دا د عِلم او حِکمت نه ډک او اسان جواب یې چې واوریدو نو د هٔغه غیر مسلمه تسلي وشوه- بیا هغهٔ دریمه پوښتنه وکړه، اوئې وئیل: ستاسو نبي خُدائے د معراج په شپه د ځان خوا له بللے وو، که هغه واقعي د خُدائے محبوب وو نو هغه یې دُنیا ته واپس ولې راولیږو؟

اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پهٔ ظاهره د ګراني پوښتنې اسان شان جواب ورکړو او اوئې فرمائیل: (پهٔ دې باندې پهٔ یو مثال سره ځان پوهه کړه! فرض کړه) یو بادشاه دے، هغه د خپل ملک د نظام چلولو د پاره خپل یو نائب مقرر کړو، هُغه نائب د ملک نظام ډیر پهٔ ښه طریقه د بادشاه د خواهش مطابق وچلولو، بیا بادشاه خپل نائب د انعامونو ورکولو د پاره د ځان خوا له راوبللو- اوس ووایه چې بادشاه به نائب له انعامونه ورکوي او واپس به یې رالیږي که هغه به د هُغې عهدې نه لرې کوي او د ځان سره به یې ایساروي؟ (یقیناً چې هُغه نائب ته به انعامونه ورکوي او ورته به وئیلے شي چې تا ډیر ښهٔ کار وکړو، خپل کار جاري ساته!)-

د دومره زړهٔ راښکونکې، ډیر اسان او د حکمت نه ډک انداز کښې چې یې د خپلو پوښتنو جوابونه واوریدل نو غیر مسلمه ووئیل: ما ته د ټولو پوښتنو جوابونه میلاؤ شو، زهٔ خپله ښځه او بچي راولم، مونږ ټول به اِسلام قبلوو (روسته بیا هغوئې ټولو اسلام قبول کړو)-[1]

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! څومره ښکلے او ښائسته انداز دے- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! دا دے د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه شان--!! اوس لږ هُغه آیت مبارک بیا واورئ! الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مِمَّنۡ خَلَقۡنَاۤ اُمَّةٌ یَّهۡدُوۡنَ بِالۡحَقِّ (پاره:9، سورۂ اعراف:181) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او زمونږ د مخلوق نه یوه داسې ډله ده کومه چې د حق هدایت ورکوي- |

*-*-*-*

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| خائفِ | کبریا | ہیں رضا، ہیں رضا | عاشقِ | مصطفٰے | ہیں رضا، ہیں رضا |
| صوفیِ | باصفا | ہیں رضا، ہیں رضا | صاحبِ | اِتّقا | ہیں رضا، ہیں رضا |
| عاشقِ | اولیا | ہیں رضا، ہیں رضا | زینتِ | اَتْقِیا | ہیں رضا، ہیں رضا[2] |

---

[1] ... حیاتِ اعلیٰ حضرت، جلد:1، صفحه:331-334-

[2] ... وسائلِ فردوس، صفحه:62 ملتقطاً-

## اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به بیان فرمائیلو

خوږواو محترمو اِسلامي ورونو! ❀ اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د حق معیار هم دے ❀ بے مثله مفتي هم دے ❀ بے مثله محدث هم دے ❀ بے مثله مفسر هم دے ❀ هم داسې هغوئي بے مثله واعظ، خوږو خبرو کولو والا خطیب هم دے۔ مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه بیان به ډیر بامعني، عِلمي او ډیر اثر لرونکے وو۔ د هغوئي چرې هم داسې یو بیان نۀ وو شوے پۀ کوم کښې چې پۀ خلقو غونے ځیګ ځیګ شوے نۀ وي، چې کله به هغوئي بیان فرمائیلو نو د هر طرف نه به د **الله** پاک د ویرې او د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق پۀ وجه د ژړا اوازونه راتلل۔ [(1)]

## پۀ پاک محفل کښې نُوراني تجلي

د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خلیفه بُرهانُ الدین جبل پور رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه وائي چې یو ځل د بمبئ پۀ یو جومات کښې اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه بیان کولو، زۀ هم حاضر ووم، پۀ جومات کښې د ښځې د اینښودو ځائے نۀ وو، یعني د خلقو دومره رش وو چې پۀ جومات کښې ځائے نۀ وو۔ اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډیر ښکلے او علمي بیان وکړو، د بیان د شروع کیدو تقریباً یوه ګینټه شوې وه چې ناڅاپه پۀ ما پرګالي راغله، پۀ خوب کښې څۀ وینم چې یو عجیبه او زړۀ راښکونکے نُور پۀ ټول محفل باندې راخور دے۔ ما لا خوب لیدو چې پۀ غوږونو مې د درود او سلام اواز واوریدو، د کوم پۀ اوریدو چې زۀ راپاڅیدم۔ څۀ ګورم چې اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د منبر نه لاندې ولاړ دے، لاس پۀ نامه دے، د سترګو نه یې اوښکې رواني دي او پۀ تیز اواز لولي:

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَارَسُوۡلَ الله

---

[1] ...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:124۔

ډير وخت د درود او سلام لوستو نه پس اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيا پۀ منبر باندې کيناستو او بيا يې بيان شروع کړو- محفل ختم شو او ټول خپلو خپلو کورونو ته لاړل- پۀ بله ورځ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خدمت کښې حاضر شوم نو اومې ليدل چې يو سپين ګيرے صاحب د هغوئي پۀ خدمت کښې حاضر دے، د سترګو نه يې اوښکې رواني دي- هغوئي ووئيل: د شپې زۀ پۀ محفل کښې موجود ووم، د جومات د مينځنۍ دروازې سره مې ډېره وهلې وه او ناست ووم، د بيان شريف پۀ اوريدو اوريدو کښې پۀ ما پرکالي راغله، څۀ ګورم چې پۀ ټول محفل باندې نُور راخور دے، بيا مې پۀ غوږونو د درود او سلام اواز واوريدو او سترګې مې وغړيدلې، چې اومې کتل نو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه درودِ پاک لوستلو-

پۀ دې اوريدو بُرهان الحق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ووئيل: ما هم دا منظر د شپې پۀ محفل کښې وليدو- پۀ دې باندې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: د سرکارِ اعظم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم وو چې (د شپې پۀ محفل کښې يې) تجلي وفرمائيله- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خومره ښکلے شان دے---!! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عظيم ترين عاشقِ رسول دے، دا هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير لوئي کرم وو چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کله بيان فرمائيلو نو خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه وخت پۀ پاک محفل کښې تجلي وفرمائيله-

## دَرس او بيان زده کړئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به بيان فرمائيلو، کله چې هغوئي پۀ دويم ځل حج له لاړو، د سمندري جاز سفر وو او سمندري جاز به جدې ته پۀ رسيدو کښې ډيرې ورځې تيرولې، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه معمول مبارک وو چې روزانه به

---

[1] ...فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:128127 ملخصاً-

يـې مسافر راجمع کول او بيان به يـې فرمائيلو او هغوئي له به يـې د نيکۍ دعوت ورکولو-[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له هم دَرس او بيان کول پکار دي، دا هم ډير د فضيلت والا دِيني کار دے، که دَرس ورکول درځي، بيان کول درځي نو د دې عادت جوړ کړئ، که نۀ درځي نو د زده کولو طرف ته لاړ شئ-

## د ټولو نه ښه خبره

الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَاۤ اِلَى اللّٰهِ (پارہ:24، سورۂ حم السجدۃ:33) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د هغۀ نه زياته د چا خبره ښه ده څوک چې د الله طرف ته بلل وکړي- |

د مدينے سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: الله پاک دې هغه تر او تازه لري څوک چې زما حديث واوري، هغه ياد کړي او نورو ته يـې ورسوي- [2]

سُبْحٰنَ الله! د يوې دِيني خبرې د رسولو دا فضيلت دے نو سوچ وکړئ چې پۀ پوره دَرس او پوره بيان کښې خو ډير آيتونه، ډير حديثونه، ډيرې دِيني خبرې شاملې وي نو څوک چې پۀ ښو ښو نيتونو سره دَرس ورکوي، بيان کوي، د هغۀ د پاره به څومره اجر او ثواب وي-

## بيان کول د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت دي

ياد ساتئ چې دَرس ورکول، بيان کول د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت دي- ټولو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام به د دِين درس ورکولو او خپل قوم ته به يـې وعظ او نصيحت کولو- ځکه مونږ له هم ذِهن جوړول پکار دي ❁ پۀ دَرس ورکولو، پۀ بيان کولو انسان ته

[1] ...فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:147 بتصرف۔

[2] ...ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء فی الحث...الخ، صفحه:626، حديث:2657۔

د خبرو کولو طريقه زده کيږي ❀ ويره ورسره ختميږي ❀ پهٔ ځان باندې اعتماد زياتيږي ❀ ظاهره ده چې د درس او د بيان د پاره تياري هم کول پکار وي، عِلمِ دِين هم لوستل غواړي، چې دِيني مطالعه کيږي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! معلومات به هم زياتيږي ❀ د نيکۍ د دعوت فضيلت به حاصليږي ❀ که زمونږه د دَرس يا د بيان يوې خبرې هم د چا پهٔ زړهٔ باندې اثر وکړو او هغه نيک کارونه شروع کړل نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! زمونږ د پاره به صدقهٔ جاريه جوړه شي- **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ اٰلِهٖ وَ سَلَّم-

## د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه علمي مُذاکره

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حق د لارې هدايت کوونکے، بے لارې شوو ته د نيغې لارې ښودلو والا دے، هغوئي به درس هم ورکولو، بيان به يې هم فرمائيلو- د هغوئي پهٔ شانونو کښې يو شان دا هم دے چې **الله** پاک د هغوئي پهٔ ژبه مبارکه کښې ډير اثر ايښودے وو، چا به چې د هغوئي ښکلې ښکلې خبرې اوريدلې نو د هغهٔ زړهٔ به نرميدو-

پهٔ 28 رجب شريف کال 1337 هجرى د جُمعې ورځ وه، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ جبل پور کښې تشريف فرما وو، د مازيګر د نـمونځ وخت نزدې وو، مُريدان او عاشقان راجمع شول، د مختلفو علمي سوالونو او جوابونو سلسله شروع شوه، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ هُغه وخت د بد مذهبو او د بدو خلقو د صحبت نه د بچ کيدو پهٔ باره کښې مدني ګل وفرمائيلو-

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده علّامه مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پهٔ دې جلسه کښې بعضې هُغه خلق هم وو کوم چې به د بد مذهبو سره کيناستل، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قيمتي نصيحتونه يـې چې واوريدل نو هغوئي پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې خپل ځان

ملامته کولو کله کله به د یو ګوټ نه د توبې او استغفار اوازونه هم راتلل، پۀ دغه موقع باندې یو پښیمانه صاحب راپاڅیدو او د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پۀ ښپو پریوتو او توبه یـې وکړه۔

په دې باندې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ وفرمائیل: ورونړو! دا وخت د رحمت د نازلیدو دے، ټول د خپلو خپلو ګناهونو نه توبه وکړئ، د چا چې پټ ګناهونه وي، هغوئي دې پۀ زړۀ زړۀ کښې توبه کړي او د چا چې ښکاره ګناهونه وي، هغوئي دې ښکاره توبه کړي۔ ټول رښتونې توبه وکړئ چې الله رَبُّ الْعِزَّت هم داسې توبه قبلوي۔ زۀ دعا کووم چې **الله** پاک تاسو ټولو له استقامت درکړي۔

د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ دې یو څو جملو د محفل رنګ بدل کړو، د هغوئي د ژبې مبارکې اثر داسې وو چې خلقو پۀ چغو چغو وژړل، عجیبه فضا وه، اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پخپله هم پۀ ژړا ژړا د بخښنې دعاګانې کولې۔ د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د شهزاده د وضاحت مطابق پۀ دې موقع باندې ټولو 107 کسانو د خپلو ګناهونو نه توبه کړه او د نیکې لارې مسافر جوړ شول۔ (1)

سُنّتوں کو جِلا دیا جس نے، دِیں کا ڈنکا بجا دیا جس نے
وہ مُجَدِّد ہے دِین و مِلَّت کا، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!
جو ہے اللہ کا ولی بے‌شک، عاشِقِ صادِقِ نبی بے‌شک
غوثِ اعظم کا جو ہے متوالا، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!
جس نے اِحقاقِ حق کیا کُھل کر، رَدِّ باطِل کیا سدا کھل کر
جو کسی سے کبھی نہ گھبرایا، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!

---

1 ... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:302 ملخصاً۔

الله پاک دې د سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيله باندې مونږ ته هم د ربښتوني يخې توبې توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وصيّتونه

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به خپلو مُريدانو، خپلو محبت کوونکو، منونکو ته مختلف وصيتونه او نصيحتونه فرمائيل، راځئ چې د هغوئي يو څو وصيتونه او نصيحتونه واورو:

## (1): د اهلِسُنَّت په مذهب قائم اوسئ

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپلو مُريدانو ته فرمائي: ❀ د اهلِسُنَّت و جماعت په مذهب باندې قائم اوسئ ❀ خومره بد مذهبه مثلاً نيچريان، قاديانيان وغيره چې دي د هغه ټولو نه جُدا اوسئ ❀ دا ټول خپل دښمنان ګڼئ ❀ د دوئي خبره مه منئ ❀ د دوئي سره مه کښينئ ❀ د دوئي څه ليکل مه ګورئ ولې چې شيطان مَعَاذَ الله! په زړه کښې په وسوسه اچولو کښې وخت نه اخلي-

انسان ته چې چرته د مال يا د عزت او وقار خطره وي، هلته هيڅکله نه ځي، دِين او اِيمان د ټولو نه زيات عزيز دے، د دې د حفاظت د پاره د حد نه زيات کوشش فرض دے، مال او د دُنيا عزت، د دُنيا ژوند، هُم د دُنيا پورې دے، د دِين او ايمان سره د هميشوالي په کور (يعني اخرت) کښې واسطه راځي ، ځکه د دِين او د اِيمان فِکر د ټولو نه لازمي دے-

## (2): د پينځه وخته نـمونځونو پابندي کوئ!

سيدي اعلیٰ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: د پينځه واړو نـمونځونو پابندي ډيره ضروري ده، په نارينؤ د جومات او جَمعي اِلتِزام (يعني د پابندی سره په جومات کښې د جَمعي سره نـمونځ کول) هم واجِب دي، بے نـمانځه مسلمان لکه چې د تصوير انسان دے چې ظاهر شکل يـې د انسان دے خو د انسانانو څه کار نه کوي، بے نـمانځه هغه نه دے چې کله هم نـمونځ نه کوي، بلکې څوک چې يو وخت نمونځ هم قصداً پرېږدي، هغه هم بے نـمانځه دے-

# نـمونځ تر مرګه پورې معاف نۀ دے

سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د يوې پوښتنې پۀ جواب کښې فرمائي: تر څو پورې چې عقل باقي وي، پۀ يو وخت کښې هم نـمونځ معاف نۀ دے- د سفر پۀ حالت کښې يا پۀ داسې مرض کښې چې د روژې نيولو طاقت نۀ وي، د رمضان شريف د روژو قضا کولو (يعنې هغه وخت د پرېښودو او وروستو د نيولو) اِجازت شته- (1) دغه شان زکوٰة پۀ صاحبِ نصاب باندې او حج پۀ وَس لرونکي باندې فرض دے خو نـمونځ پۀ ټولو باندې بهر حال فرض دے- (2) څوک چې بيمار دے، د ودرېدو طاقت نۀ لري نو د ديوال، يا د اَمسا يا د کوم کَس پۀ ملاتړ دې ودرېږي او نـمونځ دې ادا کړي، څوک چې بالکل هم نۀ شي ودرېدے، هغه دې پۀ ناسته وکړي، که کيناستے هم نۀ شي نو پۀ ملاسته دې پۀ اِشارو وکړي- (3)

غرض دا چې نـمونځ تر مرګه پورې معاف نۀ دے- (4) الله رَبُّ العِزَّت فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴿٩٩﴾ (پارہ:14، سورۂ حجر:99) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: او د خپل رَبّ عبادت کوه تر دې چې تا ته مرګ راشي- |

*_*_*_*

| | |
|---|---|
| ہر عبادت سے برتَر عبادت نَماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نَماز |
| قلبِ غمگیں کا سامانِ فرحت نَماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صِحّت نَماز |
| نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ | ربّ سے دلوائے گی تم کو جنّت نَماز |
| پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ | قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نَماز |

---

1... ردالمحتار علی الدرالمختار، کتاب الصوم، فصل فی العوارض، جلد:3، صفحه:462 465۔

2... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:279۔

3... حلبی کبیر، الثانی: القیام، صفحه:261 262، ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:279 ملتقطاً۔

4... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:279 ملتقطاً۔

بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہئے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نَماز

## (3): قضا نـمونځونه ادا کړئ!

چې خومره نـمونځونه درنه قضا شوي وي، د ټولو داسې حساب ولګوئ چې په حساب کښې باقي څۀ پاتې نۀ شي، که زيات شي نو هيڅ باک پکښې نشته، او هغه ټول (قضا نـمونځونه) د خپل وَس مطابق په ورو ورو ډير زر ادا کړئ، لم ليټ او ناراستي پکښې مۀ کوئ چې د مرګ وخت معلوم نۀ دے-

## (4): قضا روژې اونيسئ!

پيرِ کامِل اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ خپلو مُريدانو ته نصيحت کوي او نور فرمائي: چې خومره روژې درنه قضا شوې وي، د روژې د بلې مياشتې د راتلو نه مخکښې يـې پوره کړئ چې په حديث شريف کښې دي: تر څو پورې چې د مخکښيني رمضان د روژو قضا نۀ وي راوړے شوې، د راتلونکې رمضان نۀ قبليږي- (1)

## (5): زکوٰة ادا کوئ!

څوک چې د مال مالِک دے (او د زکوٰة فرض کيدو نور شرطونه پرې هم پوره کيږي نو هغه دې) زکوٰة هم ورکوي، د خومره کلونو چې يـې نۀ وي ورکړے، فوراً دې حِساب وکړي او ادا دې يـې کړي، د هر کال زکوٰة د کال د ختميدو نه مخکښې ورکوئ، د کال د ختميدو نه پس ناوخته کول ګناه ده، ځکه د شروع نه لږ لږ ورکوئ، د کال په ختميدو باندې حِساب وکړئ، که ټول ادا شوے وي نو بهتره ده ګني چې خومره پاتې وي نو فوراً يـې ورکړئ او که څۀ زيات شو (يعني چې خومره زکوٰة جوړيدو، د دې نه زيات رقم مو د **اللّٰه** پاک په لاره

---

[1] ... مسند احمد، مسند ابو ہریرہ، جلد:3، صفحہ:266، حدیث:8629۔

کښې د زکوٰۃ پۀ نیت ورکړو، هُغه همره رقم) پۀ راتلونکي کال کښې منها (يعنې کم) کړئ-
الله پاک د چا نیک کار نۀ ضائع کوي-

## (6): فرض حج ادا کوئ!

پۀ وَس لرونکي باندې حج فرض دے، الله پاک د دې پۀ فرضيت بيانولو فرمائي:

وَ مَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ عَنِ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۷﴾ ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او څوک چې اِنکار وکړي نو الله د ټول جهان نه بے پروا دے- (پارہ:4، سورۂ ال عمران:97)

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حج پريښودونکي پۀ باره کښې فرمائي: د هغۀ خوښه ده که يهودي مړ کيږي او که نصراني مړ کيږي- (1)

## (7): د باطني مرضونو نه بچ اوسئ

سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپلو مُريدانو ته نور نصيحتونه کوي او فرمائي: د کذب (دروغو)، فحش (يعنې بے حيايي)، چغلی، غيبت، زِنا، د قو لوط عمل، ظُلم، خيانت، رِيا، تکبر، د ګيرې خريلو، د فاسقانو د انداز اختيارولو او د هر بد خصلت نه بچ اوسئ- څوک چې پۀ دې (بيان کړے شوو ټولو) خبرو باندې عمل کوي نو د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وعدې سره د هغۀ د پاره جنَّت دے- (2)

## رضويات او دعوتِ اِسلامي

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِله! اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اعلیٰ عاشِق دے، هغوئي صرف د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ذِکر نۀ کوي بلکې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشق جامونه په خلقو

---

1...ترمذی، کتاب الحج، صفحه:223، حديث:812-
2...حياتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:353تا354 ملتقطاً-

خښبې، د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره هُم د محبت دا فیضان دے چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي په رضویاتو باندې د کار کولو سعادت حاصلوي۔ ❀ د دعوتِ اِسلامي په عِلمي او تحقیقي شعبه الـمدینة الـعلمیه کښې باقاعده په رضویاتو باندې د کار کولو د پاره یوه شعبه: **شعبه کتب اعلیٰ حضرت** جوړه کړے شوې ده د کومې لاندې چې اوسه پورې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تقریباً 19 کتابونه او رسالې چاپ کړے شوي دي۔ ❀ د دې نه علاوه د *I.T* ډیپارټمنټ له خوا 2 ایپلي کیشنز جاري کړے شوي دي (1): وړومبے ایپلي کیشن د فتاویٰ رضویه ***Fatawa Razwia*** ده ❀ په کومه کښې چې د فتاویٰ رضویه ټول جلدونه شامل دي او د هر جلد د لاندې د رسالو او د موضوعاتو مختصر فهرست ❀ د فتاویٰ رضویه د ټولو رسالو بیل بیل فهرست ❀ د ایډوانس سرچ (***Advanced Search***) فیچر ❀ او د خپلې خوښې د خبرې نوټ کولو فیچر هُم پکښې شامل دے (2): دویم ایپلي کیشن دے کلامِ رضا ***Klam-e-Raza***۔ په کوم کښې چې د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نعتونو مشهوره مجموعه **حدائقِ بخشش** د حروف تهجي په ترتیب سره شامله کړے شوې ده ❀ په دې ایپلي کیشن کښې د خپلې خوښې د کلام سرچ (***search***) کولو ❀ د مخصوص کلامونو په آډیو (***Audio***) ویډیو (***Video***) کښې د اوریدلو کتلو ❀ او د خپلې خوښې د کلامونو د فیورټ (***Favorite***) کولو او د بیل محفوظ کولو اسانې موجوده ده ❀ په دې ایپلي کیشن کښې د مَدَني چینل (***Madani Chanal***) پروګرام **نغماتِ رضا** (په کوم کښې چې د حدائقِ بخشش د منتخبو کلامونو شرح بیان کړے شوې ده هغه) هم شامله کړے شوې ده۔

اللہ کی نِعمت ہے، یہ دعوتِ اسلامی | آقا کی عِنایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی

فیضانِ رضا ہے اور یہ غوث کا فیضاں ہے | خواجہ کی حِمایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د 1500 کلن جشن دومره زياته جذبه ولې؟

اَلْحَمْدُلِلّٰه! په ټوله دنیا کښې د 1500 کلن جشنِ وِلادت ډیره زیاته جذبه ده- عاشقانِ رسول خوشحاله دي، کوششونه جاري دي چې دا ځل به د مخکښې نه زیات په جوش او خروش سره میلاد نمانځلے کیږي- الله پاک دې مونږ ته توفیق رانصیب کړي-

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1500 واں جشنِ ولادت | مرحبا! صد مرحبا! | آئے شاہِ ختمِ نبوت | مرحبا! صد مرحبا! |
| آئے تاجدارِ رسالت | مرحبا! صد مرحبا! | آئے جہاں میں جانِ رحمت | مرحبا! صد مرحبا! |
| صاحبِ عظمت و شان و شوکت | مرحبا! صد مرحبا! | سب سے بڑی اللہ کی نعمت | مرحبا! صد مرحبا! |
| آمنہ چمکی تیری قسمت | مرحبا! صد مرحبا! | گود میں آئی ربّ کی رحمت | مرحبا! صد مرحبا! |

که د چا په ذهنونو کښې دا سوالونه راپورته کیږي چې که 1500 کلن جشنِ وِلادَت دے نو په دې کښې عجیبه خبره څه ده؟ نو واورئ په دې کښې عجیبه خبره شته- اوګورئ! الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَلْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰىؕ (۴) (پاره:30، سورۂ الضحیٰ:4) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بیشکه ستا د پاره هر راروان ساعت د تیر نه بهتر دے. |

یعني زمونږه د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مخکښې نه دا شان دے چې هغوئي ډیره اوچته مرتبه لري، د کوم وخت نه چې الله پاک هغوئي پیدا کړي دي، د هغې نه تر اوسه پورې هُم هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه افضل، د ټولو نه اوچت، د ټولو

1...وسائلِ فردوس، صفحه:44، 45 ملتقطاً۔

آقا، د ټولو حاجت روا دے۔

## بَعْدُ اَزْ خُدَا بُزُرْگ تُوئِيْ قِصه مُخْتَصر

بيا د نهايت افضل او اعلیٰ مرتبې سره سره **الله** پاک هغوئي ته دا شان هم ورکړے دے چې هره لحظه د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شانونو کښې اضافه او اضافه کيږي، هره راتلونکې لحظه، هر راتلونکے سيکنډ، هر راتلونکے منټ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شانونو کښې نوره هم اضافه کوي۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا شانِ مصطفٰی دے۔ تاسو اندازه اولګوئ! د چا شانونه چې وړومبے د ټولو نبيانو نه هم اوچت دي، هغه محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د شپې په يوه لږه شان مختصره حصه کښې د عرش نه بره پورې سفر او د **الله** پاک د قربِ خاص ټول منزلونه طَے کولو سره واپس تشريف راوړے شي، نو د چا چې د شپې د مختصرې لحظې پرواز دومره زيات دے نو په 1500 کالو کښې به د هغوئي په شانونو کښې څومره اضافه شوې وي...؟

مونږه صرف اندازه لګولے شو، د هغوئي د شانونو حال دا دے چې:

تيرا وصف بياں هو کس سے، تيری کون کرے گا بڑائی
اِس گردِ سَفَر ميں گُم ہے، جبريلِ اَميں کی رَسائی

صرف زميني حقائق ستاسو په وړاندې ږدم۔ د يوې عالمي ريسرچ ادارې د رپورټ مطابق صرف په يورپ کښې (چرته چې د غير مسلمو حکومتونه دي، هلته) هر کال 1 لک کسان اسلام قبلوي او د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غلامئ کښې داخليږي۔

اوس اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په دنيا کښې 2 اربه او 60 لاکه مسلمانان دي۔ يعنې د دنيا تقريباً هر څلورم انسان مسلمان دے۔ يقيناً دا 2 اربه او 60 لاکه مسلمانان ټول په شريکه هم د يو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْه د قدمونو ګرد ته هم نۀ شي رسيدے۔ خو که مونږه صرف د شميرې خبره

اوکړو نو د حُجۃُ الوداع په موقع تقریباً 1 لاک 24 زره صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم وو، یعنې په هٰغه وخت کښې به 1 لاک 24 زره زړونه په یادِ مصطفٰی کښې بې قراره وو، 1 لاک 24 زره ژبو به ذکرِ مصطفٰی کولو، 2 لاکه 48 زره غوږونو به د ذکرِ مصطفٰی اوریدو خوندونه اخستل۔

اوس اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! په یادِ مصطفٰی کښې درزیدونکو زړونو، ذکرِ مصطفٰی کوونکو ژبو او ذکرِ مصطفٰی اوریدونکو غوږونو په شمیره کښې 21 لاکه فیصده اضافه شوې ده۔

د اللّٰه پاک په بارګاه کښې د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شانونو کښې څومره اضافه شوې ده، د هغې خو مونږ ته هیڅ علم نشته، مونږه چې 1500 کلن جشن په زیات جوش او جذبه سره نمانځو، دا د هغو نامعلومو شانونو خوشحالي هم ده او ورسره سره د دې 21 لاک فیصده اضافې خوشحالي هم ده۔

اللّٰه پاک دې مونږ ته په ډیر زیات جوش او جذبې سره د 1500 کلن جشنِ وِلادتِ مصطفٰی د نمانځلو توفیق رانصیب کړي۔ آمِیۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: علاقائي دوره

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د ښخوانو بزرګانو پهٔ عقیدو باندې د پوخ والي حاصلولو، پهٔ صِراطِ مستقیم باندې د اِستقامت موندلو، د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د محبت د غنچو بوئي کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ، پهٔ 12 دیني کارونو کښې عملي طور شرکت وکړئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د دین او دنیا بے شمیره خیرونه به مو نصیب شي۔ پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار دے: علاقائي دوره۔

❁ د حدیثِ پاک خلاصه ده: پهٔ کومه ښپه باندې چې د اللّٰه پاک پهٔ لاره کښې دوره پریوځي، هغې ته به د دوزخ وور نهٔ ورنزدې کیږي [1] ❁ د نیکۍ د دعوت ورکولو، د ګناه

1 ... مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حدیث:16356۔

نه د منع کولو د پاره د کور نه وَتل هم د **الله** پاک پهٔ لاره کښې وَتل دي ❁ زمونږه خوږ آقا او مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نیکۍ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشریف وړلو ❁ مختلفو قبائلو ته به یې هم تشریف وړلو او د نیکۍ دعوت به یې ورکولو- [1] تاسو هُم دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول سره پهٔ علاقائي دوره کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ❁ د انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام پهٔ سُنَّتو باندې به د عمل کولو سعادت درنصیب شي ❁ د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب به میلاویږي ❁ د حدیثِ پاک مطابق د نیکۍ لاره ښودلو والا، د نیکۍ کولو والا پهٔ شان دے [2] ❁ که زمونږ د نیکۍ پهٔ دعوت یو کَس هم نیک نـمونځ گزاره جوړ شو نو یقین وکړئ چې مزې به مو شي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## شرابي د مَدَني قافلې مسافر جوړ شو

د عاشقانِ رسول یوه مَدَني قافله گیړوَنج (گجرات، هندوستان) ته ورسیدله، قافله کښې شرکت کوونکو د علاقائي دورې د پاره د جومات نه بهر تشریف یوړلو، پهٔ علاقائي دوره کښې پهٔ یو شرابي باندې انفرادي کوشش وکړے شو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغه شرابي د قافلې والؤ سره د جومات پهٔ لور روان شو، اِسلامي وروڼو د هغهٔ سره دومره د ښهٔ اخلاقو مظاهره وکړه چې هغه شپږ ورځې د مَدَني قافلې والؤ سره وو، د علاقائي دورې پهٔ برکت او د عاشقانِ رسول د صحبت پهٔ وجه هغهٔ د گناهونو نه توبه وکړه، گیره مبارکه یې لویه کړه، عمامه شریف یې هم پهٔ سر کړه- او مدني قافلو مسافر جوړ شو-

گر آئے شرابی مٹے ہر خرابی | چڑھائے گا ایسا نشہ دینی ماحول

---

1...سیرتِ مصطفیٰ، صفحہ:115 اور 144 ملتقطاً۔
2...ترمذی، صفحہ:628، حدیث:2670ملتقطاً۔

تُو آ بے نَمازی، ہے دیتا نمازی | خدا کرم سے بنا دینی ماحول

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# یو څو ضروري اِعلانات

❁ هره هفته امیرِ اهلِ سنت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مدني چینل باندې لائیو **هفته واره مدني مذاکره** فرمائي، د ربیع الاوّل شریف د میاشتې د وړومبۍ شپې نه واخله تر دولسمې شپې پورې به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! امیرِ اهلِ سنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د عالمي مدني مرکز فیضانِ مدینه کراچي نه براهِ راست مدني مذاکرې فرمائي، عاشقانِ رسول (د چا نه چې کیدے شي هغه) دې عالمي مدني مرکز فیضانِ مدینه کراچي ته تشریف راوړي او په دې مدني مذاکرو کښې دې شامل شي، که غواړي نو په خپلو خپلو علاقو کښې دې په اجتماعي توګه د دې مدني مذاکرو د کتلو اهتمام اوکړي- ټول ذمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مدني مذاکرو کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو ته دې هم د دې دعوت ورکړي-

❁ مکتبۃُ المدینه د قرآن، حدیث، عقائدو، تصوف او فقه کښې مهارت لرونکي عظیم الشان عالمِ دین اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃُ اللہِ علیه د سیرت مختلف اړخونه روښانه کوونکې 2 رسالې: (1): **تذکره امام احمد رضا** (2): **د امام احمد رضا خان** رحمۃُ اللہِ علیه **25 خبرې** او په 60 موضوعاتو مشتمله یو ښکلے کتاب "**فیضانِ امام اهلسنّت**" د شائع کولو سعادت حاصل کړے دے- تاسو رساله "**تذکره امام احمد رضا**" په **15 روپۍ** او رساله "**د امام احمد رضا خان** رحمۃُ اللہِ علیه **25 خبرې**" په **55 روپۍ** او "**فیضانِ امام اهلسنّت**" کتاب د 1500 کلن یومِ جشنِ ولادت په اسپیشل میګا ډسکاؤنټ آفر باندې په **353** روپو په قیمت غوښتلے شئ-

**❁ د 1500 کلن جشنِ ولادت په خوشحالئ کښې د مکتبۃُ المدینه شاندار پیشکش:**

**د 25 صفر شريف يومِ اعلیٰ حضرت (19 اګست)** نه واخله تر **يومِ تحفظِ عقيدۂ ختم نبوت (7 ستمبر) پورې يعني د عرسِ اعلیٰ حضرت نه تر يومِ تحفظِ عقيدۂ ختم نبوت** پورې د مکتبةُالمدينه ټول پروډکټس په 15٪ فيصده خصوصي ډسکاؤنټ باندې حاصل کړئ! هُم داسې په دې عظيم موقع باندې ❁ مدني جنډه (هر سائيز) ❁ موټر سائيکل ❁ کار ❁ ټيبل فليګ ❁ فلاور اسټک ❁ او د نعلين شريف زړۀ راښکونکي بيجونه ❁ او د جشنِ ولادت د پاره د دعوتِ اسلامي د بينرو آرډر هم د مکتبةُالمدينه په دوکانونو ورکولے شئ- زر کوئ، د جشنِ ولادت تيارې هم اوکړئ او فائده هم اوچته کړئ!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب!　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ كَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به په جنّت کښې زما سره وي- **(1)**

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب!　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په خلقو خوراک کول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک دي: (1):** خوک چې په کوم وږي باندې خوراک وکړي، **الله** پاک به په هغۀ باندې د جنَّت ميوې خورې- [2] **(2):**

---

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

2...ابو داؤد، کتاب: زکوٰة، باب: سقی الماء، صفحه:274، حديث:1682-

څوک چې د خپل ورور د لوږې ختمولو انتظام وکړي او په هغهٔ خوراک وکړي تر دې پورې چې هغه موړ شي نو **الله** پاک به هغه وبخښي- [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په نورو باندې خوراک کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے ❀ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په نورو باندې خوراک کول خوښول ❀ حضرت سیِّدُنا طلحه بن عمرو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د طرف نه د اصحاب صفه د پاره کجورې مقرر وې، کومې به چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم روزانه هغوئي له رالیږلې- [2] ❀ حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: زهٔ په صفه کښې ووم چې تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ له عجوه کجورې راولیږلې- [3] ❀ **اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** دا یو څو مثالونه دي، ګنې نو حقیقت خو دا دے چې هُم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم برکت مونږ ته میلاؤیږي، هُم ټوله دُنیا د مدینے د سرکار، د زړونو د قرار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت خوراک کوي-

کھاتے ہیں تیرے در کا، پیتے ہیں تیرے در کا | پانی ہے تیرا پانی، دانہ ہے تیرا دانہ

**الله** پاک دې مونږ ته هم د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سُنَّت باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو

---

1 ... مسند ابی یعلی، ثابت البنانی عن انس، جلد:3، صفحه:138، حدیث:3420۔
2 ... معجم کبیر، جلد:4، صفحه:388، حدیث:8086۔
3 ... مستدرک، کتاب: الاطعمه، جلد:5، صفحه:165، حدیث:7214۔

زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو(1) |

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...وسائل بخشش، صفحه:669۔